آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال ٢٠١٨/١٨/٢٠

# د قهرمانو – شهيدانو ياد

مـړه قهرمانان شول ارمانونـه يی نيمګړی شول      غرونه را ګزار شول منزلونه يی نيمګړی شول
جوړی زلزلي شوی د لوی کور برجونه ولويدل      پورته تر آسـمانه لوړ اوچت سرونه ولويدل
ځمــکی نه رنــګونه د ګلــونو سره وا لو تل      دښتو او درو نه عـقـابان بازونه والوتل
هـغه زړونـه ودريـدل چی ډک له ارمانو، نه وو
مات هغه سرونه شول چی ډک له توفانو، نه وو

سل کرت پـری شوی ګـزارونـه د اورونو وو      هر ګزار ته کلک يی د ډبرو نه سرونه وو
چيغي وي ناري وی په دښـمن يی يرغلونه وو      لاری وی اغزنی مخکی غرونه ګرنګونه وو
تـل د ننګ ډګر ته اتلان لکه زمريان ور تلل      مخامخ ميدان ته د جګړی قهرمانان ورتلل
دا دلـوی وطن بچـي په سختو لارو تلل پسـی
چيرته چی دښمن و په مورچو يی ور ختل پسی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

یـو افـغـان که پاتــی وی هم تاسـو هیـروئ نشـی　　ستاسو دعزت مورچل دبنمن ته پرینسوئ نشــی
پیـغـلي د وطـن به مـو په قــبرګلابــونه ږدی　　ستاسو په مزار به شاعران خپل کتابونه ږدی
تاسو ژوند قربان کړخو داهیلی ژوندی پاتی دي　　تولـی د ستم خونی بربادی دي میراتي دی

وياړي به تاريخ دربانـدی دا دلـوی افغان تاريخ
دا د میـروس خان، دابـدالی او د آمان تاريخ

د قهرمانو – شهیدانو یاد
kliwal_s_de_qahramano_shahidaano_yaad.pdf